د لـــوړو زده کړو وزارت

التقـوی د لوړو زده کړو مؤسسه

د علمـــي چارو معاونیت

# التقوی د لوړو زده کړو موسسې د اکاډمیکو ازادیو

# د تنظیم پالیسي

کال: 1401 هجري لمریز


بسم الله الرحمن الرحيم

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د اکاډمیکو ازادیو د چارو د تنظیم پالیسي

## لومړی فصل

## عمومي احکام

لومړۍ ماده: مبنی: د ملکي لوړو زده کړو قانون د ۳ مادې د ۱۱ بند د حکم په اساس د التقوی د لوړو زده کړو موسسې لپاره د اکاډمیکې ازادۍ پالیسي تدوین شوې ده.

**دویمه ماده : د اکاډمیکې ازادۍ تعریف: د ملکي لوړو زده کړو قانون د( ۳ ) مادې د( ۱۱ ) بند د حکم له مخې** د منل شویو علمي تګلارو (روشونو) او معیارونو پر بنسټ د علمي نظریاتو آزادانه وړاندې کول دي.

دریمه ماده: ددې پالیسۍ موخې عبارت دي له:

1) په مؤسسه کې د اکاډمیکې ازادۍ د مفاهیمو نهادینه کول.
2) په مؤسسه کې د ازادیو د مو افقو مواردو تشخیصول.
3) په مؤسسه کې د ازادیو د مخالفو مواردو تشخیصول.
4) په مؤسسه کې د علمي ازادۍ د اړتیاوو تشخیصول.
5) د مؤسسې د علمي کادر ، کارمندانو او محصلینو د علمي نظریو د آزادانه وړاندې کولو څخه ملاتړ کول.

څلورمه ماده: د موسسې ژمنتیا او ددې پالیسي د تطبیق ساحه: التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه علمي ازادۍ ته ژمنه ده او له هغې څخه ملاتړ کوي. د علمي کادر غړي حق لري خپل نظریات په ازادانه ډول د اسلامي شریعت او هېواد نافذه قوانینو د حکمونو په نظرکې نیولو سره د پوهنتون په داخل او خارج کې څرګند کړي او د پوهنتون په داخل کې په ټولو غیر سیاسي او علمي مجالسو کې ګډون وکړي او هم له پوهنتونه دباندې خپل فعالیتونه منسجم کړي او دغه پالیسي د التقوی د لوړو زده کړو موسسې رهبري، علمي کادر غړو، کارکوونکو او محصلینو د اکاډمیکې ازادۍ په مواردو قابل د تطبیق ده.

## دویم فصل

## د اکاډمیکې ازادۍ مو افق موارد

پنځمه ماده: اکاډمیکه ازادي د علمي کادر د هر غړي او محصلانو ته حق ورکوي چې خپل فکر او نظریات د وینا، لیکنې، الکترونیکي وسایلو، انځور او نورو مروجو لارو له لارې د تحصیلي نهاد په داخل کې له هر ډول ډار او تهدید پرته څرګند کړي. خو په دې شرط چې پورتني موارد د هېواد د جزا کود او نورو نافذه قوانینو له مخې جرم نه وي.

شپږمه ماده: اکاډمیکه آزادي د علمي کادر غړو ته حق ورکوي چې خپلې څېړنې د ټولنې د کتو په نظر کې نیولو سره ترسره کړي او د هغې نتایج څرګند کړي.

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د اکاډمیکو ازادیو د چارو د تنظیم پالیسي

اومه ماده: مؤسسه د اکاډمیکې ازادی د حفظ اوله هغه څخه د ملاتړ په موخه د علمي کادر د غړو او محصلانو څېړنې له هر ډول سانسور پرته په دې شرط چې د ټولنې ګټې له خطر سره مخ نه کړي، نشروي.

اتمه ماده: اکاډمیکه ازادي محصلانو او استادانو ته حق ورکوي چې د هغوی د حقوقو د تلف په صورت کې له متخلف څخه د خسارې جبران وغواړي.

نهمه ماده: مؤسسه د علمي کادر د غړو او محصلانو هغو منطقي او مستدلو نظریاتو ته درناوی کوي چې د پالیسیو او اداري وړاندیزونو په مقابل کې یې لري.

لسمه ماده: اکاډمیکه ازادي استادانو او محصلانو ته حق ورکوي چې یو د بل نظریات وننګوي او په منطقي استدلال سره هغه تر پوښتنې لاندې راولي همدارنګه اکاډمیکه د استاد هغه حق ته چې پر محصل یې د درسي مضمون د زده کړې، یادولو او تمرین په برخه کې لري صدمه نه رسوي.

یولسمه ماده: اکاډمیکه ازادي استاد ته حق ورکوي چې د خپل درسي مضمون محتوی او لوړو زده کړو وزارت لخوا منظور شیو تحصیلي نصاب ته په کتو درسي میتود ځانته وټاکي.

دولسمه ماده: اکاډمیکه ازادي د استاد هغه نمرې چې نوموړي د محصل د پاڼې د ارزیابۍ پر اساس له هر ډول تبعیض او تعصب پرته د هغه د لیاقت او استعداد له مخې ورکړي حمایت کوي.

دیارلسمه ماده: اکاډمیکه آزادي د علمي کادر د غړو د محاکمې له شفافیت او هغو دلایلو څخه چې د نوموړي پر ضد کارول کیږي د ډاډ او څرګندتیا حق ورکوي.

څوارلسمه ماده: اکاډمیکه ازادي استادانو ته حق ورکوي چې د یو مضمون په محتویاتو کې د کار د بازار د اړتیا په نظر کې نیولو سره د نافذه تقنیني اسنادو په رڼا کې تعدیلات او بدلونونه راولي.

پنځه لسمه ماده: ددې اکاډمیکې ازادۍ له مخې محصلانو ته حق ورکول کیږي د هغو تصامیمو او اجراتو په مقابل کې خپل نظریات او وړاندیزونه چې هغوی ترې اغېزمن کیږي څرګند کړي او د هغوی نظریاتو ته درناوی کیږي.

شپاړلسمه ماده: اکاډمیکه آزادي محصلانو ته حق ورکوي چې د نظم او دسپلین په کمېټه کې غړیتوب ولري او ددې کمېټې د چارو له روڼتیا څخه ډاډ ترلاسه کړي او هم اکاډمیکه ازادي محصلانو ته حق ورکوي چې د استادانو د تدریس د کیفیت په ارزونه کې برخه ولري.

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د اکاډمیکو ازادیو د چارو د تنظیم پالیسي

## دریم فصل

### د اکاډمیکې ازادی مخالف موارد

اوه لسمه ماده: تحصیلي نهاد هیڅ سیاستمدار او دولتي چارواکي ته حق نه ورکوي چې خپل عقاید او نظریات پر استادانو او محصلینو تحمیل کړي او یا د هغوی په کړنو او څېړنو کې مداخله وکړي. په همدې ډول د علمي کادرغړي هم حق نه لري چې خپل نظریات او عقاید پر محصلینو تحمیل کړي یا له داسې وسایلو او لارو چارو کار واخلي چې له مخې یې محصلین په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د علمي کادر د غړو نظریاتو او عقایدو منلو ته اړ شي.

اتلسمه ماده: اکاډمیکه آزادي د محصلانو او استادانو له هغو څرګندونو، نظریاتو، انځورونو، کړنو او... څخه ملاتړ نه کوي چې له مخې یې نافذه قوانین تر پښو لاندې کیږي.

نولسمه ماده: اکاډمیکه آزادي د علمي کادر د غړو له ډلې څخه د هغو ملاتړ نه کوي چې یواځې درسي مکلفیت ترسره کوي او نور لازم فعالیتونه (په کمېټو کې غړیتوب، مجالس، کنفرانسونه، ورکشاپونه، سیمینارونه، عملي او لابراتواري کارونو، نوښتونو، زده کړو، د ډیپارټمنټ چارو، د کیفیت لوړونې چارې او په ټولنه کې د مؤسسې نقش) څخه ډډه کوي او نه یې ترسره کوي.

شلمه ده: اکاډمیکه آزادي د علمي کادر غړو او محصلانو ته اجازه نه ورکوي چې څوک تحقیر، توهین، توبیخ، تهدید ، اذیت او یا هم د هغوی شخصیت ته صدمه ورسوي.

یو یشتمه ماده: اکاډمیکه ازادي د موسسې رهبري، استادانو، کارکوونکوي ته دا حق نه ورکوي چې د موسسې تخریب اړونده عملي او نظري اقدامات پورته کړي او نهم موسسې ته دا حق ورکوي چې پرته له مؤجه او مقنع دلایلو د کارمند دندیز مصؤنیت ته صدمه ورسوي یا یې حق وخوري.

دوه ویشتمه ماده: اکاډمیکه آزادي ددې تضمین نه کوي چې د علمي کادر یو ناشایسته او پر درس نامسلط غړی په دایمي ډول په علمي کادر کې پاتې شي او خپلې دندې ته ادامه ورکړي.

درویشتمه ماده: اکاډمیکه آزادي د علمي کادر د هغو غړو څخه چې خپل درسي مکلفیت او نورو قانوني چارو (په کمېټه کې غړیتوب، ورکشاپونو، سیمینارونو، علمي څېړنو او مقالو لیکنو) ته په تکراري ډول نه حاضریږي ملاتړ نه کوي.

څلرویشتمه ماده: اکاډمیکه آزادي د علمي کادر د غړو هغو نظریاتو په مقابل کې چې غیر قانوني او غیر اصولي دي له هغوی څخه د پوښتنو ګروېږنو، معلوماتو ترلاسه کولو او ځواب غوښتلو (استنطاق، استعلام، استجواب) ممانعت نه کوي.

پنځه ویشتمه ماده: د علمي کادر د غړو او استادانو هغه نظریات چې دوی یې په تلویزیوني، راډیویي او داسې نورو مباحثو کې څرګندوي د مؤسسې استازیتوب نه کوي او دوی مکلف دي چې په مباحثو کې له مخکې نه څرګنده کړي چې دا زما خپل نظر دی او د مؤسسې استازیتوب نه کوي. خو دا چې د مؤسسې له خوا په رسمي ډول په مشخصه یوه موضوع کې چې د مؤسسې نظر پرې غوښتل شوی وي مؤظف شي.

شپږویشتمه ماده: د اکاډمیکې ازادۍ دغه پالیسي په (دري فصلونو) شپږویشت مادو کې ترتیب او د مؤسسې د ۱۴۰۱ کال په (۹) ګڼه علمي شورى کې چې په (۳۰/ ۸/ ۱۴۰۱) نېټه دایره شوې د هر اړخیز بحث څخه ورسته رایو په اتفاق تصویب شوه.

عبدالحمید سیرت

د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې علمي مرستیال